ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.2 2023

# د پښتو ژبې صوفي شاعر سيد عظيم شاه باباجي ژوند او شاعري

# Life and poetry of Pashto Sufi Poet Syed Azim Shah Babaji

Mohammad Sajid[1]
Abdul Basir[2]
Rifat[3]

## Abstract

*Syed Azim Shah Babaji (1901-1987) was a Sufi writer of Pashto language. He was from Madyan Swat. In Sufism he belongs to Naqashbandia School of thoughts. He was in the very key personalities of the said school of thoughts. Along with Sufism he also worked in Pashto Poetry and literature. With poetry he propagates the thoughts of Naqashbandia School of thoughts. His poetry is still unpublished. His poetry reflects his personal life, along with Sufism and mysticism.*

**Key word:** *Pashto Poetry, Sufism, Azim Shah Babaji*

د پښتو ژبې او ادب د ابتداء ذکر چې کېږي نو د سوات يادونه به پکښې ارو مرو کېږي. ځکه چې د پښتو ژبې په ورومبو معلومو کتابونو کښې څۀ کتابونه د سوات په سيمه ليکلے شوي دي. مونږ ته د تاريخ پاڼې دا هم ښکاره کوي چې د سوات سيمه د مودو راهسې د علم پوهې او عرفان مرکز پاتې شوے دے. هغه که د بودهانو زمانه وه، بيا که د هندوشاهي دور او يه که په نزدو کښې د اخوندرويزه بابا دور وۀ. څنګه چې دا خاوره د کر کرونډې په حقله مړه او زرخېزه ده دغه شان د پښتو ادب په مېدان کښې هم يو ځانګړے مقام لري. د سوات پۀ تاريخ کښې ګڼ شمېر داسې شخصيات زېږدلي دي. چې هغوي پۀ ديني او ادبي مېدانونو کښې داسې خدمات کړي دي چې خلق ترې تر دې دمه مستفيد کيږي. د پښتو ادبي تاريخ کښې دَ ديني عالمانو او اولياء کرامو هم ډېر لوے کردار دے. دَ معرفت د لارې پۀ دغه سپېڅلو مشرانو کښې دَ سوات دَ رياست مشرقي سيمې بونېر کښې مېشته سيد علي غواص ترمذي[1] مشهور په (پير بابا)، د هغوي شاګرد او مريد اخون درويزه بابا[2]، ميا کريم داد[3]، اخون حافظ الپوری[4] او يو شمېر نومونه د ذکر وړ دي.

په تېره تېره د اخون درويزه بابا کورنۍ پښتو ادب ته د خپلې برخې ځلا وربخښلې ده. د دغه مکتب په تسلسل کښې د سوات مدين سره تعلق لرونکے صوفي سيد عظيم شاه [5] هم دے. چې په باباجي مشهور دے. زمونږ د بحث موضوع اصل کښې د سيد عظيم شاه "باباجي" د شاعرۍ موضوعاتي څېړنه ده. تر هر څۀ له مخه

[1] MPhil Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand.
[2] PhD Research Scholar at Pashto Academy University of Peshawar.
[3] MPhil Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand.

ضرورت د دې خبرې دے چې د باباجي په ژوند هم لږه رڼا واچولے شي ځکه چې تر دې دمه د باباجي په حقله په کومه ادبي تذکره کښې ذکر نۀ دے راغلے۔

د سيد عظيم شاه باباجي پېدائش:

سيد عظيم شاه بابا جي دَ سوات مشهور او سياحتي کلي مدين دَ کوز کلي محله دَ باباجي دَ زېږون ځائے دے ۔مدين کلے د سوات ضلعې د بحرين تحصيل يو ښکلے کلے دے۔ وائي چې د دې کلي زوړ نوم چوړړي دہ۔ د مدين کلي په مغرب کښې د سوات سيند بهېږي، او مشرق طرف ته د مدين خوړ دے۔ د مدين جغرافيائي حېثيت په دې هم زيات دے چې دا بازار د نورو ژبو (توروالي، ګاوري، ګوجرو وغېره) خلک هم لري۔ د مدين دوتر زياتره د اخوندخېلو سره دے۔

سيد عظيم شاه پۀ نولس سوه يو عيسوي کښې د ميا نور حکيم پۀ کورنۍ، پۀ مدين کښې پېدا شوے دے[6] ۔ په ادبياتو کښې د ليکوالانو د پېدائش او وصال د نېټو په حقله ګڼ شمېر شخړې موجودې دي۔ دغه سلسله کښې مونږ د باباجي د شناختي کارډ لټون هم وکړو خو بدبختانه په دې کښې مونږ کامياب نۀ شو ۔ د باباجي د قبر په کتبه د هغه د وصال نېټه درج ده ولې د پېدائش نېټه پرې نشته[7]۔ د باباجي د کورنۍ مطابق د باباجي د پېدائش نېټه ۱۹۰۱ء ده[8]۔ او دا تر ټولو قوي حواله ده۔ مونږ هم په دغې اکتفا کوو۔

د عظيم شاه باباجي کورنۍ او شجره نسب:

عظيم شاه بابا جي د ميا نور حکيم زوے دے۔دَ باباجي پلار دَ سوات په سيند کښې د جالې د ډوبېدو په واقعه کښې دَ قنديل په مقام وفات شوے وو ۔ مور ئې د مدين د ټانګاړ کلي د ګلاب استاد لور وه[9]۔ په هغه وخت کښې دَ باباجي عمر يو نيم کال وو۔ باباجي دَ اتو کالو وۀ چې دَ مور دَ غېږ نه هم محرومه شو[10]۔ د بابا جي خانداني ځېله اخون درويزه بابا ته په دې ډول رسي، ميا نورحکيم بابا زوے د مشرف بابا، زوے د ګل محمد بابا، زوے د شهاب الدين عرف ملا بابا، زوے د ميا نصير الدين بابا، زوے د زين العابدين عرف سپين ږيرے بابا(مدفون مدين)، زوے د مصطفٰی بابا عرف ميا جي بابا (مدفون اسلام پور)، زوے د ميا نور محمد عرف ميا نور بابا (مدفون اسلام پور)، زوے د ميا کريمداد بابا عرف شهيد بابا (مدفون کانجو[11]) ، زوے د اخون درويزه (مدفون هزار خانۍ پېښور[12])۔

د باباجي زده کړې:

باباجي څه داسې منظمې زده کړې نۀ دي کړې خو په هغې وخت کښې چې کوم ديني تعليم مروج دستور وۀ د هغې مطابق ئې زده کړې کړې دي۔

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.2 2023

باباجي د خپلو زده کړو شروعات د خپل ماشومتوب نه کړے دے۔ او دغه کار ئې تر اخري ساه پورې جاري ساتلے دے۔ عصري زده کړې يې نۀ دي کړي او ټول وخت يې ديني زده کړو ته وقف کړے وۀ۔

په خپل کلي کښې ابتدائي زدۀ کړې:

د باباجي ابتدائي زده کړو په حواله عابد هارون ميا وائي

"دَ باباجي تعليم او تربيت سپين ږيري مولا په جمات کښې شروع کړو ، سپين ږيري مولا دَ باباجي دَ نيکه دَ تره زوے وو۔ ددغي سره سره ددغه دور بل استاد "برانيال[4] استاذ" هم دَ دوي تعليم او تربيت کولو۔ مولا داد ځوک چې دَ باباجي د مور له طرفه نيکه وۀ هغوي دَ دوي په ابتدائي تعليم کښې خپل زيار ايستلے دے۔ دوي د ملا دادا د مشهور شاګرد او عالم فاضل انسان حضرت بلال ميا نه هم زدۀ کړې کړې وې۔ "[13]

د کلي نه بهر زدۀ کړې:

د کلي نه بهر د زدو کړو په حقله عابد هارون وائي

"دَ ابتدايي زده کړې نه پس باباجي دَ تعليمي سفر باقاعده اغاز وکړو او څه موده يې دَ اله ډهنډ ډهيرۍ دَ يو عالم نه زده کړې وکړې۔ څه وخت پس دَ چارسدې عطاءالله خان بابا جمات کښې دَ کوهستان مولا شاګرد شو او هم دَ هغه سره يې دَ مذهبي پوهې دپاره څه وخت تېر کړو"[14]

حضرت مسعود ميا وائي چې باباجي په اوډيګرام او چارسده کښې په درس و تدريس کښې هم برخه اخستې ده[15]۔

د هېواد نه بهر زدۀ کړې:

بابا جي د علم تږے وۀ او د علم تندے د هېواد نه بهر په تلو مجبوره کړو په دې حقله حضرت مسعود ميا وائي۔

"د نور علم حاصلولو په سلسله کښې د افغانستان په لور لاړ او هم په کابل کښې تر شپږو کالو ئې دغه سفر جاري وساتلو۔ باباجي دَ علم او پوهې تږے وۀ نو دَ کابل نه پس ئې دَ هندوستان لار ونيوه او دَ هندوستان په مشهور ښار رامپور کښې په يوه مدرسه کښې علمي زدۀ کړې وکړې"۔[16]

[4] د بحربن زوړ نوم

بابا جي د علم په حصول پسې د دنيا ډېر ملکونه کتلي دي. د دغه سفرونو مقصد يوازې سېر و تفريح نهٔ وهٔ. د دغه سفرونو په حقله عابد هارون ميا وائي

" باباجي په خپل ژوند کښې دَ سياحت شوق هم کړے دے. خو دا نهٔ ده معلومه چې دغه سفرې دَ هغوي علمي او ادبي سفرې وې که محض دَ سېر و تفريح په غرض يې ډېر ملکونه کتلي دي هغوي دَ برصغير نه علاوه دَ سيام ، تهائي لينډ، برما، انډونيشيا، سماټرا ، عرب ، بخارا او ثمرقند سفرې کړې دي. او هم ددغه ځايونو واقعات او خبرې ترې مونږ اوريدلي دي" [17].

دا سفرونو په حقله معلومات عابد هارون ميا راکړي دي. د باباجي پاسپورټ موجود نهٔ دے. ځکه مونږ د عابد هارون ميا په يادښتونو اکتفا کوو.

د دې واقعاتو نه دا څرګندېږي چې باباجي به د ډېرو ټولنو او خلکو ژوره مشاهده لرله. او د دې سفرونو او زدهٔ کړو د باباجي په دې مقام جوړولو کښې لوے لاس وهٔ.

باباجي په خپله شاعرۍ کښې داسې وائي.

مفســـــر او مــــــدبر عبـــــــد الحکيم دے
د نـــــوري وطـــــن بادشـــــاه عبـــــد العظيم دے [18]

په بېلابېلو ژبو عبور:

باباجي د درس و تدريس په مېدان کښې د وخت مروجه ژبې زده کړې وې. چې پکښې فارسي، عربي ، هندکو او اردو شاملې دي. او په دې ژبو کښې ئې ليکونه هم موجود دي. باباجي په پښتو، فارسۍ او عربۍ کښې شاعري کړې ده. د خط و کتابت دپاره ئې اردو هم کارولې ده. د دې ترڅنګ ئې فقهي مسائل په عربۍ کښې ليکلي دي. د تحقيق په اوان دا خبره هم معلومه شوه چې د باباجي عقيدتمند د بېلابېلو ژبو ويونکي دي. چې د باباجي د دغه صلاحيت ښکاره مثال دے.

د بابا جي د تصوف رياضتونه:

تصوف د عربۍ ژبې ټکے دے چې بېلابېلو لغتونو ئې وضاحت کړے دے. هغه علم چې د هغې په ذريعه د زړهٔ تزکيه کېږي او د انسان او خداے تر منځه تعلق پيدا کېږي (د. ل). د نفساني خواهشاتو نه پاکېدل، د نفس پېژندګلو، د نفس د پاک والي قاعده (ا. ل). هغه علم چې د هغې په ذريعه د زړهٔ صفائي حاصلېږي، د نفس د خواهش نه پاکېدل (پ. ا).

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.2 2023

د تصوف ځلور غټې سلسلې قادريه، نقشبنديه، چشتيه او سهورورديه دي[19]. باباجي په دې ځلورو سلسلو کښې د سلسله نقشبنديه پېروکار دے. صوفياء کرام دا سلسله د حضرت ابوبکر صديقؓ سره منسوبوي. په بېلابېلو وختونو کښې دا سلسله په مختلفو القابو سره ياده شوې ده.

"صوفیاء کرام کے سلاسل میں سے نقشبندیہ ایک معروف ترین سلسلہ ہے جو سیدنا ابو بکرؓ کی طرف منسوب ہے۔ مختلف زمانوں میں اس کے مختلف القاب رہے ہیں۔ چنانچہ حضرت صدیق اکبرؓ سے شیخ بایزید بسطامی (م ۶۲۱ھ) تک اسے صدیقیہ کہتے ہیں اور بایزید بسطامی سے خواجہ عبدالخالق غجدوانی (م۔۱۱۷۹ء) تک طیفوریہ اور خواجہ عبدالخالق سے خواجہ بہاؤالدین نقشبند (م ۷۹۱ھ) سے طریقہ ''نقشبندیہ'' کے نام سے منسوب ہے کیونکہ آپ نے اس کی ترویج واشاعت میں نمایاں کردار ادا کیا اس لیے آپ کو سلسلہ نقشبندیہ کا بانی تصور کیا جاتا ہے۔"[20]

ژباړه: د صوفياء کرامو په سلسلو کښې نقشبنديه يوه مشهوره سلسله ده چې د حضرت ابوبکر صديق سره منسوب ده. په مختلفو وختونو کښې دا سلسله په مختلفو نومونو ياده شوې ده. د حضرت ابوبکر صديق نه تر شېخ بايزيد بسطامي (۶۲۱هـ) پورې په صديقيه يادېدله، د بايزيد بسطامي نه تر خواجه عبدالخالق غجدواني (۱۱۷۹ء) پورې په طيفوريه نوم يادېدله او د خواجه عبدالخالق نه تر خواجه بهاؤ الدين نقشبند (۷۹۱هـ) پورې دا سلسله د نقشبنديه په نوم منسوبه ده. ځکه چې دوي د دې سلسلې په ترويج او اشاعت کښې ځانګړے کردار لوبولے دے په دغه وجه دوي د نقشبنديه سلسلې باني ګڼلے شي.

د نقشبنديه نوم په وجه تسميه کښې وئيلے کېږي چې:

"نقشبند کی لفظی معنی ''مصور'' کے ہیں اور اس کے تشریحی معنی ''علم الٰہی کی لاثانی تصویر کھینچنے والا'' کے ہیں۔ بعض صوفیائے کرام نے نقشبند کے اصطلاحی معنی ''اپنے دل میں کمال حقیقی کا نقش رکھنے والا'' بیان کیے ہیں"[21]

ژباړه: د نقشبند لفظي معنىٰ مصور ده او تشريحي معنىٰ ئې د علم الٰهي لاثاني تصوير ويستل دي. ځينې صوفيايے کرام د نقشبند اصطلاحي معنىٰ په خپل زړهٔ کښې د کمال حقيق نقش لرونکي بيانوي.

دې سلسلې دومره پرمختګ وکړو چې تر روم، شام، عرب، بخارا، ترکستان، کابل، چين، او برصغير پورې خوره شوه. او په کروړونو خلق د دې نه فېض ياب شول په برصغير کښې دا سلسله د مغلو په دورِ حکومت کښې د شيخ باقي بالله په کوششونو خوره شوه. بابا جي هم په دې سلسله کښې د موړه شريف (مري) د هغه دور د مشهور پير خواجه محمد قاسم موهړوي صاحب نه بيعت کړے وۀ.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.2 2023

### د دنیا نه پرده/ رحلت:

باباجي د شپږ اتیا کالو په عمر کښې په څوارلسم ستمبر نولس سوه اووه اتیا عیسوي (۱۹۸۷ء) کښې د دنیا نه پرده کړې ده[22]. روح ئې ښاد شه. د یادونې وړ ده چې بابا جي ته هېڅ قسمه موذي بیماري نۀ وه.

### مزار:

د باباجي مزار مبارک په خدوپل سخاکوټ کښې دے. اګر چې دا ځاے د ملاکنډ او مردان په برید دے خو انتظامي طور د مردان ضلعې برخه ده. د باباجي مزار د 1995 او 2000ء کلونو په منځ کښې تعمیر شوے دے. د دې مزار تعمیر د باباجي خلیفه د سوات جرو د محمد امین خان او د مینګورې د فضل خان په مالي مرسته شوے دے. د باباجي په قبر معلوماتي کتبه لګېدلې ده. او په مزار باندې ئې یو ښکلے ګنبد تعمیر شوے دے. چې د لرې نه پېژندلے شي[23].

### عرس:

عرس د عربۍ ژبې لفظ دے. چې لفظي معنٰی ئې د ولیمې، یا د نکاح دعوت دے. او په اصطلاحي معنو کښې د پیرانو او ولیانو د کلیزې فاتحې رسم ته وائي. د فاتحې او سماع جلسه هم د عرس په معنو کښې راځي[24].

د باباجي په مزار دوۀ عرسونه په کال کښې کېږي. یو عرس د مۍ په میاشت کښې د باباجي د پیرخواجه محمد قاسم موهړوي په رحلت باندې کېږي. دغه عرس باباجي شروع کړے وۀ او تر دې دمه دا سلسله دوام لري.

دویم عرس د باباجي په رحلت باندې د ستمبر په میاشت کښې کېږي. د دې عرس دورانیه درې ورځې ده او په څلورمه ورځ اجتماعي دعا کېږي. چې د ۱۱ ستمبر نه تر ۱۴ ستمبر پورې وي. دا عرس د کال ۱۹۸۸ء نه په باقاعده توګه کېږي.

### د باباجي لیکونه:

باباجي د تزکیه نفس سره په علمي او ادبي مېدان کښې هم ډېر د قدر وړ کار کړے دے. د باباجي ټول کار په ناچاپه حالت کښې د هغه د زامنو سره محفوظ پروت دے. باباجي په اردو، پښتو، فارسۍ او عربۍ ژبه لیکونه کړي دي. په دغه لیکونو کښې خو څه لیکونه ئې په نثر کښې کړي دي او د څه لیکونو دپاره ئې د شاعرۍ ژمکه خوښه کړې ده. باباجي د پښتو تر څنګ په عربۍ او فارسۍ ژبه کښې هم اشعار لیکلي دي. د باباجي د شاعرۍ دوه دفترونه دي. چې وړومبے دفتر د پښتو برخه لري او دویم دفتر د فارسۍ او لږه ډېره د عربۍ برخه لري. دا دوه دفترونه په درې ډائرو مشتمل دي. د باباجي د لاسو لیکونه زمونږ تر سترګو شوي دي.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.2 2023

دغه ډائرۍ د باباجي زوي عابد هارون میا په خپل قلم نورو ډائرو ته راړولي دي۔ چې د ضائع کېدو نه بچ شي ولې چې دغه اصلي ډائرۍ د ضائع کېدو په خطره کښې دي۔ او پاڼې ئې ډېرې کمزورې شوي دي ۔ مونږ ئې لږ تفصیل وړاندې کوو۔

وړومبۍ ډائري:

دا ډائري ټولې ۱۱۵ صفحې لري۔ ټول په ټوله د پښتو شاعري ده۔ د دې شروع د بسم الله نه شوې ده او وړومبي شعرونه ئې داسې دي۔

رحـــم ســــتا مـــــې شـــۀ دســــتار
هـــــم مـــــــې اوخــــــوړل انـــــار
شـــــکر شـــــــکر چـــــــې د يــــار
راتـــــــــه اووې پـــــــه يـــــــو وار
شـــــکر شــــــکر چـــــې دلبـــــــر
ســــــپين جبـــــين کـــــۀ رابهــــر[25]

او اختتام ئې په دې شعرونو شوے دے۔

د خوارانــــو غريبـــــانو دســــتګير شــــه
حلــيم طبعـــه نـــوراني دوســـت د خبيـــر شـــه
د رب نـــور ئـــې پـــاکيزه حســـن تصـــوير شـــه
خليفـــــه د حـــــق وارث د رب قـــــدير شـــــه[26]

دويمه ډائري:

دا ډائري ټول ۲۳۵ مخونه لري۔ د پښتو برخه پکښې د وړومبي مخ نه واخله تر ۱۳۳ مخ پورې ده۔ وړومبي شعرونه ئې په لاندې ډول دي۔

د دلبــــر د ســــرو لبـــــانو دارخـــــواه يـــم
يـــار تـــه ګـــورم د يـــار حمـــد و ثنـــاء وايـــم
همېشـــه د يـــار د حســـن پـــه ســـودا يـــم
کېـــوتلے د ســـجدې پـــه مشـــغولا يـــم[27]

د پښتو برخې اختتام ئې په دې کلام شوے دے۔

تــهٔ زمــا رحــیم ئــې تــهٔ زمــا مــولٰی کــریم ئــې
تــهٔ زمــا قــدیم ئــې تــهٔ زمــا اللہ حکــیم ئــې
تــهٔ زمــا نعــیم ئــې تــهٔ زمــا نعمــت سـلیم ئــې
تــهٔ زمــا اقــرار ئــې تــهٔ زمــا صــدق بیــان ئــې[28]

په دویمه ډائرۍ کښې د ۱۳۴ مخ نه تر ۲۳۵ مخ پورې د فارسۍ شاعري لرې. د دې ابتداء د بسم اللہ نه شوې ده. او ورپسې په عربۍ کښې حمد و ثناء دې. او د فارسۍ دا شعرونه دي.

کریم است ربي و دود و رحیم حمیدست و رحمان و رحیم عمیم
غنی دانش از طاعت ہر کہ بود باوراق ماہست و صفش رقیم[29]

ژباړه:زما رب کریم، ودود او رحیم دے۔ حمید دے، رحمان دے، او رحم ئې هر چا دپاره دے۔
هغه بې نیازه دے، زما په دې پاڼو د هغه ثناء و صفت لیکلے شوے دے۔
او اختتام ئې په دې شعرونو شوے دے۔

شا رم بوصل دار بر صورت نگار
آن نور کن شبا بم در پرده نہانہ
سید عظیم گیر کز موہڑوی
آمد بتور سید آن حسن غائبانہ[30]

ژباړه:زهٔ د دار په وصل داسې خوشحاله یم لکه د محبوب سره چې ملاقات وي۔ زما شباب هغه نور کړه چې په پرده کښې پټ وي۔ سید عظیم له سهاره ورکړه چې د موهړې نه راغلے او تا ته رارسېدلے دے په دې حسن غائبانه پسې۔

درېمه ډائري:

دا ډائري ټولې شل(۲۰) صفحې لري۔ټول د پښتو کلامونه لري۔ ابتداء ئې د لاندې شعرونو نه شوې ده۔

تــاجر مــې وے پــه مخکښــې تجــارت مــې د ســـر وے
پېـــزوان مـــې وے پـــه پـــوزه ســـاره بـــان مـــې دلبـــر وے

مهـــــار مـــــې وے پـــــه پـــــوزه بـــــاز مـــــې مخکښـــــې وے روان
اغوســـــتې جـــــامې شـــــنې وے ســـــپين جبـــــين ئـــــې درخشـــــان[31]

او اختتام ئې په دې شعرونو شوے دے

نـــــۀ ځـــــان پېـــــژنم او نـــــۀ ځـــــان تـــــه ځـــــان وائـــــم
يـــــار مـــــې وائـــــي دے ســـــيد اولوالابـــــاب نـــــن
ســـــيد عظـــــيم شـــــۀ بختـــــور ســـــر ئـــــې منظـــــور شـــــۀ
چـــــې امـــــام شـــــۀ د خوبـــــانو پـــــه محـــــراب نـــــن[32]

باباجي يو ګڼ اړخيز شخصيت وۀ. د هغه د ژوند احاطه په يو څو پاڼو کښې نۀ شي کېدے. ما کوشش کړے دے چې غټ غټ اړخونه ئې لوستونکو ته وړاندې کړم.

نتېجه:

سيد عظيم باباجي (1901-1987) د پښتو ژبې يو صوفي ليکوال دے. د دوي تعلق د سوات د مدين علاقې سره وۀ. د تصوف په لار کښې دوي په نقشبنديه سلسله کښې راځي. دے د نقشبنديه سلسلې په اهمو شخصياتو کښې وۀ. دوي د تصوف او عرفان په لاره د عملي تګ سره سره د شعر و ادب په لار هم تګ کړے دے . د خپلې سلسلې تبليغ و ترويج ئې د شعر د لارې کړے دے. د دوي شاعري لا چاپ نۀ ده. ولې مسوده ئې د زامنو سره خوندي ده. د دوي شاعري د پندو نصيحت، تصوف او عرفان سره سره د دوي د ذاتي ژوند آئينه داره ده.

حواله جات (References):

[1] بريکوټي، شير افضل"پير بابا"ماسټر پرنټر محله جنګي پشاور، ۱۹۹۹
[2] بريکوټي، شير افضل "اخون درويزه بابا"حاجي حنيف الله اينډ سنز پرنټرز لاهور.، ۲۰۱۰
[3] کاکاخېل، سيد تقويم الحق" مقدمه" مخزن الاسلام د اخون درويزه بابا، پښتو اکيډمي پېښور، ۱۹۷۸
[4] نعيم، هدايت الله"ديواني مقدمه" د حافظ الپوري ژوند او شاعري" پښتو ادبي جرګه پېښور. ۲۰۰۰
[5] عابد هارون ،د باباجي زوے"مرکه " نېټه ۱۰ جولائي ۲۰۱۹ ځاے کوز کلے مدين سوات
[6] انجنئر کرامت احمد ميا پرنسپل ګورنمنټ ټيکنيکل کالج باړه خيبر، د باباجي زوے، مخ په مخ مرکه، ۱۱ جنوري ۲۰۱۹ء پېښور
[7] د سيد عظيم شاه باباجي د قبر کتبه، سعادت پور خدو پل مردان.

[8] حضرت مسعود میا کمشنر رائټ ټو پبلک سروسز، د بابا جي زوے، مخ په مخ مرکه، ۱۰ جنوري ۲۰۲۱ء، یونیورسټي ټاؤن پېښور

[9] حضرت مسعود میا کمشنر رائټ ټو پبلک سروسز، د بابا جي زوے، مخ په مخ مرکه، ۱۰ جنوري ۲۰۲۱ء، یونیورسټي ټاؤن پېښور

[10] عابد هارون ،د باباجي زوے"مرکه" نېټه ۱۰ جولائي ۲۰۱۹ ځاے کوز کلے مدین سوات

[11] رحیم شاه رحیم، غټه خزانه، شعیب سنز پبلشرز سوات، ۲۰۱۵ء مخ: ۲۶

[12] حبیبي، عبدالحی، پښتانه شعراء اوله حصه، یونیورسټي بک ایجنسي، د چاپ کال، ند ، مخ:۵۷

[13] عابد هارون ،د باباجي زوے"مرکه" نېټه ۱۰ جولائي ۲۰۱۹ ځاے کوز کلے مدین سوات

[14] عابد هارون ،د باباجي زوے"مرکه" نېټه ۱۰ جولائي ۲۰۱۹ ځاے کوز کلے مدین سوات

[15] حضرت مسعود میا کمشنر رائټ ټو پبلک سروسز، د بابا جي زوے، مخ په مخ مرکه، ۱۰ جنوري ۲۰۲۱ء، یونیورسټي ټاؤن پېښور

[16] حضرت مسعود میا کمشنر رائټ ټو پبلک سروسز، د بابا جي زوے، مخ په مخ مرکه، ۱۰ جنوري ۲۰۲۱ء، یونیورسټي ټاؤن پېښور

[17] عابد هارون ،د باباجي زوے"مرکه" نېټه ۱۰ جولائي ۲۰۱۹ ځاے کوز کلے مدین سوات

[18] د باباجي د شاعرۍ ډائري نمر۲ ، ناچاپ، مملوکه عابد هارون میا المعروف ارسلان، مدین مخ: ۵۲

[19] سید محمود حسن حسنی ندوی، سلاسل اربعہ، سید احمد شہید اکیڈمی تکیہ کلاں رائے بریلی، چاپ سال ندارد، فرنٹ فیج

[20] محمد جمیل، مطلوب احمد رانا، سلسلہ نقشبندیہ کا تعارف، الاضواء، ۲۰۱۶ء، جلد ۳۱، شمارہ ۴۶، صفحہ: ۲۴۷

[21] مہربان حسین، ڈاکٹر، صوفیائے کرام کی دینی واصلاح خدمات، اشاعت اول، جہلم، ناشر دربار عالیہ رواتڑ شریف، ۲۰۱۰ء، ص: ۵۹

[22] د سید عظیم شاه باباجي د قبر کتبه، سعادت پور خدو پل مردان.

[23] د میا فضل مبدي عظیمي سره واټس اپ ډسکشن، نېټه: ۲۹ جنوري ۲۰۲۲ء

[24] مومند ، قلندر، صحرائي فرید ، پښتو لغت دریاب، اول ایډیشن، امېد پرنټر، دربار مارکیټ لاهور، ۱۹۹۴ء مخ: ۹۳۵

[25] د باباجي د شاعرۍ ډائري نمر۱ ، ناچاپ، مملوکه عابد هارون میا المعروف ارسلان، مدین، مخ: ۱

[26] هم دغه اثر مخ: ۱۱۵

[27] د باباجي د شاعرۍ ډائري نمر۲، ناچاپ، مملوکه عابد هارون میا المعروف ارسلان، مدین مخ: ۱

[28] هم دغه اثر، مخ: ۱۳۳

[29] هم دغه اثر مخ: ۱۳۴

[30] هم دغه اثر، مخ: ۲۳۵

[31] د باباجي د شاعرۍ ډائري نمر۳، ناچاپ، مملوکه عابد هارون میا المعروف ارسلان، مدین، مخ: ۱

[32] هم دغه اثر، مخ: ۲۰